بسم الله الرحمن الرحيم

**د خلافت تاسيس د نړۍ پر هر مسلمان فرض دی، هغه که د يوه ظالم دولت تر جبر لاندې وي او که نه!**

د کمونيستي ځواک تر ړنګيدو او قرغېزستان تر ازادۍ وروسته، دا هېواد غواړي وښيي، چې يو سيکولر دولت دی او نور د الحاد له مفکورې نه دی متاثره، دغه راز هر فرد ته د عقيدې ازادي ورکوي؛ خو په حقيقت کې هر څه بل ډول دي. په وروستيو کلونو کې مسجدونه، مدرسې او د اسلامي تعليماتو ادارې زياتې شوي دي. مسلمانان، چي د قرغېزستان د نفوس ۸٦ سلنه جوړوي، ورځ تر بلې په ورځني ژوند کې اسلام ته مخه کوي او همدارنګه شريعت اوس په اړينو سياسي موضوعاتو کې مطرح کېږي. دې واقعيت د قرغېزستان سيکولر دولت اندېښمن کړی او دولت هڅه کوي، چې د تروريزم او افراطيت تر عنوان لاندې په هره ممکنه لار د ژوند په چارو کې د اسلام د خپرېدو مخه ونيسي.

پيل يې د اسلامي مرکزونو او عمومي ښوونځيو د درسي نصاب له نظارت څخه کړی، ان په ښوونځيو کې يې پر حجاب بنديز لګولی او ړيره لرونکي نارينه يې بې عزته کړي دي. دا د دولت له لوري د اسلام د پلي کېدو پر وړاندې د مداخلې پيل دی. همدارنګه دې ظالم سيکولر رژيم په 2004م کې د حزب التحرير پر ارزښتمن کار بنديز ولګاوه. له هغه راهيسې د حزب شباب او پلويان په ظالمانه ډول بندي شوي، تر څو د حزب غړي وډار کړي او دوی د اسلامي ژوند د عاملو له کار څخه را وګرځوي. ان د امت د ډارولو په موخه يې له کوم دليل پرته ښځې زنداني کړي دي.

د همدې کال په جون مياشت کې يې اته مسلمانې ښځې ونيولې او دوې نور يې له کوم دليل پرته تر اوسه بنديانې کړي دي. ارونو ارکين ګل او بکتايبيک کيز محبت له دې لامل زنداني شوي، چي د اسلام په اړه مواد ورسره وو. ظالم حکومت د دغو ښځو د عمر، ماشومانو، والدينو او روغتيا په اړه هېڅ باک نه لري. دوی له هرې ممکنه لارې هڅه کوي، چې سيکولر فکر نشر او خلک له اسلام څخه ليري کړي.

د خلافت تر سقوط وروسته امت په دغه ډول ناوړه حالت کې دی. ښځې، اولادونه او والدين يې نه زغمونکي تکليفونه ګالي. دوی بنديانېږي، شکنجه کېږي، جنسي ځورول کېږي، له لوږې سره مخ کېږي، بمبارېږي او د خپل ژوند لپاره له اسلامي طرز څخه منع کېږي. خو د خوښۍ زيری دادی، چي دوی دا قرباني د اسلام او الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره ورکوي او د دې په مقابل کې به انشاءالله بې شمېره اجرونه تر لاسه کړي. خو زموږ لپاره ځورونکې خبره دا ده، چې د يوه مسلمان په توګه موږ د اسلام لپاره څه کړي دي؟ ايا موږ هم له الله سبحانه وتعالی څخه د ورته اجر هيله لرو؟ په داسې حال کې چې موږ د دين لپاره هېڅ هم نه دي کړي او د

ژوند په چارو مصرف یو. په داسې حال کې چې په ورته وخت کې زموږ ورونه او خویندې د اسلام لپاره سختۍ ګالي. ایا د شرم خبره نه ده، چې له الله سبحانه وتعالی څخه د جنت د لوړو مقامونو غوښتنه کوو، په داسی حال کې چې موږ د اسلام لپاره کومه لویه قرباني هم نه وي ورکړې؟ موږ ځانونو ته کوچني او بې اړتیا مشکلات جوړو او بیا ورته د امتحان نوم ورکوو او هره ورځ پرې بوخت یو. د امت اصلي حالت او په دې دنیا کې مو خپل اصلي مسوولیت له یاده وتلی دی. د دې مطلب دا نه دی چې هر یو دې بندي یا شکنجه شو، بلکې هدف دا دی چې موږ ځانونه د دې امت غړي وبولو، له امت سره کار وکړو، چې حقیقي ازادي تر لاسه کړي او په دنیا کې خپل وخت د الله سبحانه وتعالی  د دین په لار کې مصرف کړو.

نافع روایت کوي چې وایي: عبدالله بن عمر ماته وویل، چې ده له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې ویې فرمایل:

«**من خلع یداً من طاعة لقي الله یوم القیامة لا حجة له، ومن مات ولیس في عنقه بیعة مات میتة جاهلیة**». (رواه مسلم)

*__ژباړه:__ څوک چې د الله سبحانه وتعالی له اطاعت څخه لاس واخلي د قیامت په ورځ به په داسې حال کې له الله تعالی سره مخامخ شي چې هېڅ دلیل به ونه لري او څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې د بیعت کړۍ یې په غاړه کې نه وي، نو مرګ یې د جاهلیت دی*

**د خلافت تاسیس د نړۍ پر هر مسلمان فرض دی، هغه که د یوه ظالم دولت تر جبر لاندې وي یا نه.** د یوه داسې لوي فرض پر وړاندې بې پروایي لویه ګناه ده او د الله سبحانه وتعالی له لورې د سختې سزا لامل ګرځي. ځکه خو موږ الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو، چې په قرغېزستان کې زموږ د زنداني شویو خویندو امتحان اسانه او د قرغېزستان د ظالم دولت له منګولو یې وژغوري. دغه راز موږ ته د دې فرصت راکړي، چې د نبوت په منهج د خلافت د بیا تاسیس په نیک کار کې برخه واخلو او له دې لارې د عظیم اجر تر لاسه کولو موقع پیداکړو. آمین اللهم آمین!

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکواله: امینه عابد**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړ**